بسم الله الرحمن الرحیم

## بي بي سي له داعش سره د انګلیس له پټې معاملې پرده پورته کړه

(ژباړه)




**خبر:**

بي بي سي د هغې پټې معاملې له جزیاتو پرده پورته کړه، چې د داعش سلګونو جنګیالیو او د دوی کورنیو ته له رقې ښخه د وتلو اجازه ورکوي. دغه معامله د نړیوال ایتلاف تر مشرۍ لاندې د امریکا، انګلیس او کردي ځواکونو په مشرۍ چې پر رقه ښار واکمن دي، شوې ده. (سرچینه: بي بي سي-انګلیسي)

د رقې ښار د سقوط موضوع یې د داعش وروستۍ دوره او د غربي ایتلاف بریالیتوب ښودلی دی؛ له داعش سره د غرب د جوړجاړي د شایعاتو، څرګندېدو ډېر وخت ونیولو، خو دغه خبرونه چې «بي بي سي» کړې، له داعش سره د غرب ښکاره اړیکې ښیي.

**تبصره:**

«بي بي سي» په دغې خبرنه کې موندلي، چې د سورۍ دیموکراتیکو ځواکونو، د هغو کردانو او عربانو جوړ ایتلاف، چې له داعش سره مبارزه کوي، له یو شوېر کامیون چلوونکو سره د دې لپاره هوکړه وکړه، چې د داعش د کورنیو سلګونه تنه له «فرات سد رودخانې» ښاره د سورۍ په شمال کې بلې فوځي اډې ته ولېږدوي؛ خو کله چې کامیون چلوونکي د

اکتوبر پر ۳۱مه د ورځې په سر کې لېږدولو ته چمتو شول، وپوهېدل چې دروغ ورته ويل شوي او دوی بايد د هوکړې په خلاف دری ورځې په سختۍ سره موټروانې وکړي او هغه خطرناکه بار، چې د داعش سلګونه تنه جنګيالي، کورنۍ او څو ټنه وسله او مهمات وو، ولېږدوي.

يادو موټرچلوونکو له بي بي سي سره د خپل هويت د نه ښودلو په شرط مرکه کړې او ويلي يې دي، چې دوی ته زرګونه ډالر ورکړل شوي، ترڅو دغه موضوع پټه وساتي.

د دغه هوکړه ليکه د متن پر اساس، چې د سيمه‌ييزو چارواکو لخوا ترتيب شوی و، داعش جنګياليو اجازه لرله، چې له «رقې» ښاره وتښتي. دغه هوکړه ليکه له هغې جګړې څلور مياشتې وروسته وشو، چې ښار يې ړنګ او له اوسېدونکو څخه يې خالي کړ. امريکا، انګليس او د سوريې ديموکراتيکو ځواکونو نه غوښتل، چې په دغه هوکړه ليکه کې خپل رول ومني او په دې ډول يې لوی دردونه د نړيوالو له سترګو پټ کړل. «بي بي سي» د دغې موضوع له لسګونو شاهدانو سره مرکه کړې، چې له ډلې يې په کاميون(لارۍ) کې شته افراد او هغه کسان وو، چې دغه موضوع يې د سر په سترګو ليدلې او همداراز هغه کسان وو، چې د دغې معامله کې حاضر وو.

له کاميون چلوونکو څخه يو «ابو فوزي» و، چې ويلي يې دي: «له هغه وخته چې رقې ښار ته ننوتو، وېره او ډار مو پر ټول وجود خور شو. ژمنه داسې وه، چې ښار ته د سوريې له ديموکراتيکو ځواکونو سره يو ځای داخل شو؛ خو هغوی زموږ ملتيا ونه کړه او په يوازې ځان مو دغه کار وکړ، له ننوتلو سره سم له داعشي جنګيالو سره په داسې حال کې مخ شوو، چې وسلې او ځان وژونکي واسکټونه ورسره وو. د سوريې ديموکراتيکو ځواکونو موږ غولولي وو، داعشيانو موږ له هر لوري کلابند کړو او که د دغې هوکړې په تطبيق کې کومه خطا رامنځته شوې وی، داعشيانو ټول کاروان ته چاودنه ورکوله؛ ځکه د دوی ماشومانو او ښځو هم ځان وژونکي واسکټونه اغوستي وو. د دې لپاره چې دغه معامله پټه پاتې شي د سوريې ديموکراتيکو ځواکونو ښار له رسنيو پاک کړی وو.»

هغه انځورونه چې په پټه توګه اخيستل شوي او بي بي سي ته رسېدلي، هغه کاميونونه ښيي چې له وسله والو کسانو څخه ډک دي. ژمنه داسې وه، چې داعشيان به يوازې شخصي وسلې لېږدوي، خو د داعش جنګياليو ټول هغه څه را واخيستل، چې کولی يې شوی له ځان سره يې يوسي او لس لارۍ چې له وسلو او مهماتو څخه ډکې وې له ځان سره ولېږدولې. د هغې څېړنې په رڼا کې چې «بي بي سي» تر سره کړې، اوس ايتلاف د دغه هوکړه ليکه د لوبې يوه برخه منلې او ويلي يې دي، چې د داعش جنګياليو شاوخوا ۲۵۰ تنو ته اجازه ورکړل شوه، چې د خپلو کورنيو له ۳۵۰۰ غړو سره رقه پرېږدي.

د داعش د پيداکېدو له ورځې را پدېخوا ډېری کسان د دغې ډلې پر انګېزو شکمن دي. په ځانګړې توګه کله يې چې د نړيوال ايتلاف پر ځای مسلمانان خپله موخه وګرځول. په سوريه کې هغه وخت داعش ډله راښکاره شوه، چې بشار اسد د ماتې په حال کې و، داعش ډله سوريې ته لاړه او د دولت له مخالفو ډلو سره يې جګړه پيل کړه او د بشار اسد د موضع(قدرت) په ټينګولو کې يې پراخه مرسته وکړه.

اوس پوهېږو، چې په موصل کې عراقي ځواکونه د خپل مشر لخوا په بغداد کې ګومارل شوي وو، چې ښار داعش ته پرېږدي. په داسې حال کې چې داعش د عراق او سورې په پولو کې په پوره ازادۍ سره ګرځېدل او غربي طيارې يې پر سر ګرځېدلې، خو د له منځه وړلو لپاره يې کوم کار ونه کړ.

له داعش څخه د رقې پاکول دغه واقعت ښيي، چې تر اوسه د غرب لپاره له داعش څخه ګټې اخيستنې ته اړتيا شته او رول يې پای ته نه دی رسېدلی.


**لیکوال: عدنان خان**

**۱۴۳۹ هـ.ق، د صفر ۲۹مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۱۸مه**

**ژباړن: منصور درېځ**